یو طنز، د کابل نه

# « ږیره وره په پارلمان کې »

بریتور په پارلمان کې، ږیره وره په پارلمان کې
اخوان هم ورسره دي، پرولتر په پارلمان کې
پیاده به اوس غربي دموکراسي شي په وطن کې
تیرتوک به هم بدل شي اوس نیکر په پارلمان کې
ملاجانه په همدې دنیا د حورو مزې واخله
د ښځو سره ګډه وهه غومبر په پارلمان کې
صحنه د باغ وحش ده خلکو راشئ تماشې ته
ماولیده زموږ د کلي خر په پارلمان کې
ټوپک خوي سمبول دی اما توپ هم ورسره دی
راکټ په پارلمان کې، دی ښکر په پارلمان کې
کمال د چین پوش د مدارۍ د چالاکۍ دی
بخیرې د جنتر سره منتر په پارلمان کې
د ږیرې د ښیاف لاندې به ناڅي سرې او سپینې
فهیم به هم وهي جانیواکر په پارلمان کې
درې ښځې به څلور کړي که تعداد یې پوره نه وي
پیسې د به لا پیدا کړي قاچاقبر په پارلمان کې
د ننګ او د پښتو ګټه نه څه له ترینه غواړي
معاشونه جاسوستان خوري په ډالر په پارلمان کې
زرداد او مسعود نشته نور خو ټول سره راټول دي
لومېن د پاټلونو لنډه غر په پارلمان کې
قانون به قانوني به ګاله و وهي په بده
محقق به هم مېخکوب کاندي په ټر په پارلمان کې
دا فصل چه کړي امریکا د ښاد به نشي
راشنه دي د غنم په ځای جودر په پارلمان کې